رڼاګل اریوبزی ۲۰۱۷/۰۸/۱۷

# فساد

## ځلورمه او وروستۍ برخه

### په ټولنه او دولت د فساد اغیزی

### الف ـ دولتی فساد ددولتی چارواکو تر منځ سیالی او دښمنی راپاروی:

نن سبا دا له چا پټه نده چی فاسددولتی چار واکی انسانی احساس،ملی ارمان اوژمنتیا او دوجدان سپیڅلتیا نه پیژنی.دژوند رسالت او دهغه ټول ارزښت دحرامی شتمنی په راټولولو او دخپلی ناپاکی ګیډی په پړسولو کی وینی.دملی ګټو په مفهوم نه پو هیږی او ملی شتمنی ورته بی څښتنه مال ښکاریږی،دخلکو جیبونه،ملی او شخصی ملکیتونه لوټوی او په هر څه او دهر چا چی وی خپله ګیډه اچوی.په فساد کی دهر فاسد چارواکی ونډه تر ډیرحده په دولتی دستګا کی دهغه په واک او ځواک پوری اړه لری.په هره اندازه یی چی په دولتی دستګا کی مقام لوړیږی،واک او ځواک یی زیاتیږی په همغه اندازه یی دفساد سرچینه پراخیږی او ونډه یی پنډ یږی.په دی توګه له دولتی مقامونونه دفساد ستراتیژیک هدفونه جوړیږی،دی هدفونوته درسبیدو په موخه ددولتی چار واکو تر منځ رقا بتونه را پیدا کیږی،چی ډیرځله وسله والونښتو ته هم وچتیږی اوکله کله سمی نظامی کوتاګانی هم تری جوړیږی.داچی مفسدین دفساد په سرچینو او دولتی مقامونو نه سره جوړیږی او تل یوبل ته ګواښیږی، د دولتی ځواک یوه برخه ددوی تر منځ په ګواښونو،ناندریو،رقا بتونو،جګړو او دښمنیو اوبه کیږی.په دولت دخلکو باور کمزوری کیږی،له ولسه تجریدیږی اویوه داسی سیاسی ناروغی تر جوړیږی چی دم دوا یی هیڅوک پیدا کولی نشی،ځواکمن بهرنی انډ یوالان یی علاج کولی نه شی.

### ب ـ دفسادپه نیشه مست شوی دولت دقانون حاکمیت تر پښو لاندی کی:

دفساد نیشه هر وخت او په هر ځای کی دفاسدو چار واکو سترګی ړندوی،حق او قانون نشی لیدلی،حاکمیت ته یی زیان رسوی،دحقوقی اوقانونی ژوند په ویجاړولو پیل کوی،هر څومره چی چارواکی په فساد کی ډوبیږی، په همغه اندازه دقانون حاکمیت کمزوری کیږی او بلاخره لغو او تر پښو لاندی کیږی.کله چی فساد دوروستیو شپاړس کالو په بهیر کی دافغانستان داسلامی جمهوریت چارواکو دکار او مشغولیت اساسی برخه اوور پسی دژوند عادت وګرځید،ورسره سم سیاسی کلتور او ټولنیز ـ حقوقی شعور مخ په زوال شول.دقانون حاکمیت او په ټولنیز ژوند کی دهغه اهمیت او ارزښت،چی دچاروکو په شعور کی یی له سره چندان ځای نه درلود،بیخی له بسته ووت او تر پښو لاندی پریوت،تر دی چی د ۲۰۱۴م کال دولسمشری ټولټاکنو پایله،دولس رایه،اراده او داساسی قا نون یویشتمه ماده له سره بابیزه وګڼل شول او حکومت داساسی قانون په خلاف په هغه وخت کی د امریکا دبهرنیو چارو وزیر جان کری په منځګړتیا دیوه مصلحت په بنسټ جوړشو،چی له مخی یی دولسمشری مقام په ځای پاتی شو،خو تر څنګ یی ددولت په تشکیل کی د«اجرایه ریاست»په نامه غیر قانونی مقام جوړشواو داساسی قانون دځلورویشتمی مادی په خلاف دولسمشر دقانونی واک نیما یی برخه ورکړ شوه،له دی امله ددولت داجرایه ارګان داوسنی جوړښت قا نونی مشروعیت نه لری.ددی کار اساسی مو خه داوه چی په دولت کی دفاسدانو او فساد دموجودیت، استمرار او دهغوی دنفوذ دزیاتوالی لپاره لار همواره کړی.
له بلی خوا داساسی قانون له مخه دمقنینه ارګان« پارلمان» قانونی دوره څوکاله پخوا پای ته رسیدلی ده چی هیڅوک یی اوږدولی نشی او دی اوسنی پارلمان ته قانونی مشروعیت ورکولی نشی.داچی غیر قانونی حکومت دغیر قانونی پارلمان سره په ګډه دقضایی ارګان لوړ پوړی چار واکی ټاکی،نو دا ارګان هم قانونی بنسټ نلری.پدی توګه دری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

واړه ځواکونه غیر قانوني دي او دهیوا داساسي قانون له مخې دموجدیت حق نه لري.اوس نو که څوک له دې دولته دقانون دپلي کولو تمه لري،ماته د ګل پاچا الفت دالاندې شعر رایادوي:

په ورانکاروچې کارونه جوړوي
حقیقت کې جوړ کارونه ورانوي

یا تګې یا ډیره سخته ناداني ده
که بوتان په بت پرستو ماتوي

په رښتیادکوم دولت موجدیت چې قانوني مشروعیت ونه لري، په څه ډول به په تو لنه کې قانون پلي کوي.دقانوني حاکمیت په ټولنیزاو سوله ییز اهمیت اوارزښت پوهیدل،دقانون درناوی او په ټولنه کې دهغه پلي کول سیاسي کلتور او حقوقي شعور ته اړتیا لري او څوک چې په دې اوصافو سمبال وي فا سد کید لی نشي او فاسد بیا دسیاسي کلتورا و حقوقي شعور خاوند کیدلی نشي اوله قا نون سره جوړیدلی نشي،قانون به ماتوي او تر پښو لاندې کوي.د (ازادي کور) وروستي څیړنه ښیي چې:«داساسي قانون تر توشیح کیدو وروسته په تیرو ۱۳کلونو کی له ټولو ۱۶۲ مادو څخه یوازې شلمه ماده(دافغانستان پایتخت کابل دی) ندې نقض شوې......څیړنه وايي چې دولسمشري ماني،دملي شورا غړو،دحکومت لوړ پوړو چار واکو،دکابینې غړو،دوزارتونو مرستیالانو،امنیه قومندانانو،جنرالانو، زورواکانو تر ټولو زیات داساسي قانون نه سر غړونه اونقض کړي دی.»[نن ټکی اسیا ۲۰۱۶/۷/۶مج]
دااونوره بې شمیره څیړنې او لیکنې ښیي چې، په افغانستان کې لوړپوړي دولتي چار واکي، دفساد او له قانونه دسر غړونې مبتکران او عملي مخکښان دي او ټیټ پوړي چارواکي په ځیر ځیر ورته ګوري او ددوی په لار روان دي، او دواړ لویه برخه له سره بل کار نه لري، په غلا او چور کې سر ګردان دي.ډیر احتمال شته چې زما په شان به ډیرو نورو هیواد والو ته هم دا پوښنه پیدا کیږي چې، ولې دا دقانوني مشروعیت نه بې برخه دولت، چې دخپل ماموریت یو ساعت یې هم قانوني نه دی تیر کړی،په یوه خوله او په ډیر ټینګار له طالبانو غواړي، چې داحتمالي سولې په صورت کې به حتماً ددوی قانون منې او هم به یې په عمل کې پلې کوي او له امریکایانو هم داغوښتنه کوي چې ترڅوپه طالبانو یې داقانون منلې نه وي ترهغو به یې ورته ګوښې نه پریږدي.دډیر غور او فکر نه وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې، داپوښتنه یوازې یو منطقي ځواب لري، او هغه داچې که طالبان په اوسني اساسي قانون قسم ونه خوري او هغه ونه مني،نو بیاخو حتماً خپل اساسي قانون جاري کوي، او د طالبانو اساسي قانون بیا په خپل وار دغېتو غټو غلو لاسونه هم غوڅوي،که چیرې داسې وشي نو دوروستیو درو قانوني دورو له ټولولوړ پوړو دولتي چار واکو څخه به یوازې اوسني ولسمشر اشرف غني، دوه بشپړه لاسونه ولري او په پوره بیغمي او ازادۍ کې به یې دیخوا او هغې خواته غور ځوي.

## ج ــ فساد د اقتصادي او کلتوري ودې مخه ډب کوي:

نن سبا زموږ په هیواد کې هرڅوک په دې پوهیږي چې دولتي چارواکي ددو لتي واک په خپله سیمه کې یا خپل خپلوان او دوستان په دندو ګماري یا دولتي دندې (دکار ځایونه)په نغدو ډالرو پلوري، وايي چې په دې سوداګرې کې دپارلمان وکیلان ددلالانو رول لوبوي.پدې بازارکې څوک دکار لپاره دمسلکي پوهې،استعداد،قابلیت او وړتیا په لټه کې نه دي،دکار سلوک او ددندې په وړاندې دمسولیت احساس موضوع هم دبحث وړ نه ګڼل کیږي، او کوم ارزښت نه ورکول کیږي،دوې وچ کلک لګیا دي په سپینو او بې حیا سترګو، ډالر لټوي او څوک یې چې لري،دسر په سترګویې منې او په مهمو او پیچلو دندویې ګماري.بې پیسو اوبې واسطو زلمي که په لوړو زده کړو،مسلکي مهارتونواو قابلیتونو سمبال،دکار دعالي سلوک او ددندې په وړاندې د وچت مسولیت خاوندان هم وي، په دولتي موسسو اواداروکې په کار نه ګمارل کیږي او دخپل حق نه بې برخې پاتې کیږي.په دې توګه لوړ پوړي دولتي چارواکان اوزورواکان داشرف غنې ظوابط تر خپلو روابطو قربانوي اوتاریخي مسخره ترې جوړوي،دادولتي دستګا دروابطو اوظوابطو په برخه کې هم دنظار شورا او دحامد کرزي ګډه کرنلاره تعقیبوي،دپوهې،سپیڅلتیا،زیار ایستنې اووړتیا په وړاندې خپلې دښمنې ته دوام ورکوي،په ټولنه کې یې ارزښت له منځه وړې او بې مثله سپکاوی ورته کوي.کله چې په افغانستان کې دملګرو ملتو ماهران ددولتي فساد دا بیساري لوبه څیرې نو په یوه راپورکې لیکي چې:«کوچکترین فرصت کار درین کشور مثل اشیایی بازار خرید وفروش میشود.....وظایف، قراردادها،جوازها،وخدمات اساسي دولتداری وتمام مسایل دیگر توسط اشخاص بانفوذ طوری تقسیم وتوزیع میشود که همه چیز را خراب میسازد.ماآخرآگذارش داشتیم که حتی یک فرصت قو مندانی پولیس مثل اشیا بازار خرید وفروش میشود.»[افغا ن جرمن آنلاین ۲۰۱۶/۱۰/۷م] په دولتي دستګا کې دواک او زور خاوندان دولتي مشغولیتونه او دکار ځایونه له پلاره ورته پاتې شوی میراث ګڼي او په بازار کې یې دکالیو په شان پلوري، چې هربست دهغه دعایداتي ارزښت په تله ځانګړې بیه لري.دا بیه دکاندید دزده کړې درجه،کاري اومسلکي وړتیا ،دکار سلوک او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سپیڅلتیا په بیساری بیباکی او بی مثله ګوستاخی تر پښو لاندی کوی او له هیڅ سره برابروی. په دی توګه دولتی دستګاه ډیوهو،مسلکی اوپه هیواد مینو ځلمیانونه بی برخی کوی اوله بیسواده،بی مسلکه او بی مسولیته اشخاصو یی ډکوی،پدی توګه دفساد او بی کفایتی تر منځ دایمی انډیوالی نوره هم ټینګوی،اوږدوی او په ټوله دولتی دستګاکی دفساد او ناوړتیا لمن پراخوی.کمال یی دادی چی دژوند په هره برخه کی ددولت وړتیا ځپی،دچارو دتر سره کولو وس تری اخلی،مدیریت بی خونده اوبی رنګه شی،د ناوړتیا پیټی یی دومره دروند شی چی داقتصادی او کلتوری ودی په وړاندی خنډکیږی، او تر بار لاندی یی تو ل ولس کړیږی او ربړیږی.بیکاری او بیوزلی زیاته شی،ولس په دولت بی باوره کیږی او ددواړو تر منځ فاصله ورځ په ورځ زیاتیږی.ښکاری چی دفاسدو دولتی چارواکو سر پدی نه خلاصیږی، چی له ولسه تجرید شوی دولت نه یوازی بیوسه اوکمزوری کیږی،بلکی ژوند یی هم له ګواښ سره مخامخ کیږی،یا به دمځکی له سره ورکیږی او یابه دایمی غلام پاتی کیږی.دسیاسی کلتور الفبا راښیی چی ځواکمن دولت هغه دولت نه دی چی غښتلی نړیوال انډیوالان ولری اویایی چارواکی په ملیونو غلا کړی ډالری،غټ عټ توپونه ،ډیری جنګی الوتکی یاډیری لښکری ولری او خپل ولس په وډاروی،بلکی قوی دولت هغه دولت وی چی تکیه یی په خدای او بیا په خپل ملت وی .چی متحد او یو موټی شوی ملت یی تر شنګ ودریږی،هغه دولت خواکمن ګڼل کیږ،نه ړنګیږی،نه ویریږی،نه ماتیږی او تل سر لوړی پاتی کیږی.افغان ولس پدی وروستیو شپاړس کلونو کی ولیدل چی داد دولت مخالف وسلوال ندی،بلکی په خپله د دولت لوړ پوړی چارواکان دی، چی له دی ویاړه یی بی برخی کوی،په بیساری فساد او ناوړتیا یی له و لسه جریدوی، دملا تیر یی ماتوی او په مرګ یی ګواښوی.

## د ــ فساد د امن او مصؤنیت متضاد دی:

لړڅه مخکی مو وویل چی فساد دفاسدو چارواکو ترمنځ رقا بتونه او دښمنی راسپړی چی دا په خپل واربیا دولتی ځواک ته زیان رسوی .دی ته مو هم ګوته ونیوله چی دقانون حاکمیت له منځه وړی،سیاسی او ټولنیز نظم ویجاړوی او ور پسی په دی ټکی وغږیدو چی فساد انسانی استعدادونو،وړتیاواو ابتکارونو ته سپکاوی کوی او هڅه کوی چی بی ارزښته یی کړی،معنوی او مادی پانګه له هیواده بهر تیښتی او مهاجرت ته یی مجبوروی او په دی توګه دهیواد داقتصادی او کلتوری ودی مخه نیسی.خو ټولنی ته دفساد زیا نونه په دی څو ټکو پای ته نه رسیږی.تر ټولو مهم ټکی دادی چی فساد له سره دامنیت او مصونیت متضاد دی.موږ ولیدل چی فساد په حقیقت کی ددولتی واک او زور نه په استفاده په شخصی او ټولنیز ملکیت اود انسان په ځان، پت او عزت تیری دی،دملکیت حق اود فر د مصونیت ګوا ښوی او په ټولنه کی ناآرامی ته لمن وهی. فاسد دولتی چارواکان په حقیقت کی زورواکان دی،قانون نه، بلکی زور چلوی اوزور خو نه یوازی دقانون حاکمیت بلکی امنیت،مصونیت اوسوله هم نفی کوی، او فاسد دولت پدی توګه دملت په ضد غلی او نااعلان شوی جګړی ته دوام ورکوی، او ددی دولت په چوکاټ کی دفساد په ضد هر کوچنی حرکت ټوله دولتی دستګاپه لړزا راولی، اوټول زور واکان او فاسد جنګی جنایتکاران یی دخطر دزنګ په توګه اوری.په هیواد کی دننه او له هغه دباندی دنوواپتلافونو او اتحادونو جوړول او اعلانول بله مانا نه لری.داحرکتونه یو ځل بیا په ګوته کوی چی دولتی فساد د دولتی چارواکانو اوزورواکانو تر منځ،ددولت او ملت ترمنځ او ددولت او دهغه دوسلوالو مخالفانو تر منځ دنا آرامی او نا امنی بنسټیزه سر چینه جوړوی.

وایی چی دځمکو په غضب کی ۱۶۰۰۰زورواکان ،پخوانی اواوسنی فاسد دولتی چارواکان ښکیل دی چی، په سلګونو زره جریبه شخصی او دولتی ځمکه یی غضب کړی ده.له قراردادونو، کانونو،دوزارتونوله بو دیجی،دګمرکونو نه دغلا او دمالی فساد دنورو ډولونو اندازه په دقیق ډول نه ده مالومه،خو ډیری څیرنی ښیی چی دولتی چاروا کی دخپل ولس نه هرکال څه ناڅه ځلور ملیارده ډالر یوازی درشوت له لاری تر لاسه کوی.داد یوه بیوزله،جنګ ځپلی،ټوټی ټوټی او په وینو لړلی هیواد دخلکو لپاره ډیر دروند بار دی چی په اوږو یی وړی او درنځونو ډک ژوند یی لا پسی ځپی.کله چی دروښتیا نړیوال ساز مان مشردا بار وینی نووایی چی:«که دافغانستان عام ولس دولتی دفترونو ته دورتګ په وخت کی دفساد سره مخامخ نشی نو په ژوند کی به یی د ښه والی په لور دکتنی وړ بدلون راشی.»[ بی بی سی،پښتو څنګه ۲۰۱۷/۴/۱۴م.]

دولتی فساد زموږ په هیواد کی له سره بی جلبه شوی دی، پوله او لوری نه پیژنی، یا نی یوازی دشخصی اوملی شتمنیو په چور او لوټولوپوری تړلی نه دی، بلکی ژوند او پت هم ګواښوی.ددوستم، ایشچی او اکبری دشرم وړډرامی،په بادغس کی دقاضی جنسی رشوت او په ننګرهار کی ددوو خوېندو سره دحضرت علی دیوه ټیټپوړی قومندان واده، ددی ډول فساد یو څو نمونی دی،ا وحتی تر دی چی دځینوکیلانو،زور واکانو او دولتی چارواکانو باډیګاردان هم دا دځان مسلم حق ګڼی چی بیواسطی او بیوزله دولتی پولیس ووهی او بی عزته یی کړی.دا خو لا پریږ ده، دهیواد په کچه ۳۶۰۰۰وسلوال چی په رسنیو کی د(بی مسؤلیته وسلوال) په نوم یادیږی فعال دی.دا وسلوال دوسلو او مخدره موادو په قاچاقو او دانسانانو په تښتولو کی لاس لری،له ولسی وګړو باج اخلی،دخلکو کورونه لټوی اولوټوی او په ځینو ځایو کی کورنی له خپلو کورونو باسی او نا ما لومو خوا وو ته یی لیږی. دا بادونه دځنی محلی او مرکزی فا سدو دولتی چارواکو سره پټی او ښکاره اړیکی لری.وحشت او رسوایی دی حد ته رسیدلی دی چی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځنې واليان هم پرې سترګې نه پټوي. دهيواد په شمال کې دتخار والي ډاکتر محمد ياسين ضيا په وچت آواز وايي چې :«دتخارولايت دناامنيو او مخدره موادو قاچاق ترشا دولتي چار واکي دي....يو شمير سمه ايز چارواکي اود پارلمان ځنې غړې نه يوازې په وژنو او تښتونو کې لاس لرې بلکې په طالبانو وسلې هم پلورې.»[روهي ويبپاڼه ۲۰۱۷/۱/۳۱م].هلته دباميانو والي هم په خپل وار ګيله ګوي چې:«دفاسدو تر نيولو وروسته له فشارونوسره مخامخ کيږي......طاهر زهير وايي،په دغه ولايت کې له فساد سره دمبارزې په برخه کې ګڼ دولتي مامورين دفساد په تور نيولي او قضايي ارګانونو ته يې ور پيژندلي وخوله بلازمينې دا سې کسان ورته دهغوی دخلاصون لپاره زنګونه وهي چې ګمان يې هم نشي کيداى. دې ددغو کسانو په هکله توضيحات نه ورکوی خووايي، لوړ رتبه چار واکي دي.»[نړې نيوز،۲۰۱۷/۱/۱۳م] او دپکتيکا والي خالد هاشمي بيا پخپل وار په ډاګه کوي چې:«دطالبانو ۹۰سلنه جنګي تجهيزات د دولتي سرچينو او امنيتي ځواکونو دننه منا بعو څخه ترلاسه کيږي.»[روهي،۲۰۱۷/۴/۱۴م]

د دوستم اوعطا تر منځ وسلوالي نښتې هم ښيي چې دواړه جنګسالاران دفاسدو غرضونو لپاره وسلوال باندونه ساتي او دولسي وګړو امنيت ګواښوي. ددې ناآراميو او سستيماتيکو شوکماريو تر څنګ دنظار شورا اوباشان هر کال دوړې په اتلسمه نيټه په رڼا ورځ په شخصي او دولتي وسلو سنبال او په شخصي او دولتي ګاډو کې سپاره دکابل ښار په کوڅو او بازارونو کې خپل عنعنوي وحشت ننداري ته وړادې کوي،بې وسلې ملکي وګړي ډاروي،ترورروي،بې سببه فيرونه کوي،يوڅو تنه دخپل بربريت نه قربانوي او په شهادت يې رسوي.ټوله دولتي دستګا يې ننداره کوي او که په ښکاره چک چکې نه ورته وهي، نو مخنيوی يې هم نه کوي.دا حالت به تر هغه پورې دوام کوي، تر څو چې دولت په مستقيم يا غير مستقيم ډول دجنګسالارانو په ولکه کې وي.وينو چې دادو لتي چارواکي دملت دسر او مال ساتنه نه کوي،سر يې ګواښوي او مال يې لوټوي،امنيت او مصؤنيت نفی کوي او په لوی لاس ناآرامي راپاروي.ملت له دولته بيزاره کوي اودولت له ملت نه تجريدوي، په ولس کې ددولت مخالفان ورځ په ورځ زياتوي او ځنې خو دې ته مجبوروي چې ددولت دوسلوالو مخالفانو په ليکو کې ودريږي او دولت په ضد وجنګيږي. پورتني واقعيتونه راښيي چې داد طالبانو زور نه دی ،دا په دولت کې دننه بې کچې او بې جلبه فساد او زورواکي دي چې، ددولت ملا ماتوي اوله پښو يې غورځوي او دهغه دمخالفانو ملا تړ کوي.دا چې پخواني امريکا يي جنرال جيسون دمپسي په يوه مقاله کې پوښني،«چې طالبان څنګه له استخباراتي او لوژستيکي او پر مختللو وسلو او الو تکو پرته جګړه او پر مختګ کوي؟»[روهي،۲۰۱۷/۱/۷م] سم ځواب يې همدادی چې فساد او زور واکي ددې دولت لاسونه او پښې تړې او دمخالفانو ګذارونو ته يې برابروي.

په کابل کې دملګرو ملتو مرستندوی دفتر يا يوناما هم دخپلو څيړنو په لړ کې دې بايلې ته رسيدلی دی،«چې دفساد موجوديت دخلکو ژوند اوپه دولت يې د باور دزيانمنولو تر څنګ دسولې او پر مختګ مخه هم نيولې ده.»[ازادي راديو،۲۰۱۷/۴/۲۵م] هو!فساد دخلکو ژوند ته زيان رسوي،دسولې او پر مختګ مخه نيسي او دجنګونو او رنځونو عمر اوږدوي ، فاسد بل پرنسيپ نه لري اوهر هغه شی ته غواړه ږدي او هر هغه څه کوي چې په بدل کې يې پيسې لاس ته ورځي.اروپايي ټولنې چې دناټو په چوکاټ کې يې دافغانستان د اوسنی دولت په جوړولو او د طالبانو دحملو په وړاندې دهغه په ساتلو کې د امريکا تر څنګ کره ونډه لري، هم په پوره غور دخپل انډوال دولت سره دمالي او نظامي مرستوبرخليک څيړې او په خواښيني څرګندوي چې،«دافغانستا ن امنيتي او دفاعي ځواکونو لوړ رتبه چار واکي په فساد کې ښکيل دي او دافغاني ځواکونو وسلې په طالبانوپلورې چې په مقابل کې يې دافغانستان ملي ځواکونه کمزوري شوي او طالبان پياوړي شوي دي.»[افغان جر من آنلاين ۲۰۱۷/۴/۲۷م]

داسې ښکاري چې په افغانستان کې فساد او په پايله کې يې دجنګ اوږوال او دچار واکو بې کفايتي امريکايان هم ګنګس کړي دي،نه پوهيږي چې بالاخره به څه کيږي او څه با يد وکړي.په کابل کې ددې هيواد خاص سر مفتش جان سوپکو په يوه را پور کې ليکلي دي چې .«په افغانستان کې دانتخاب آسانه لار نشته او ددې ضمانت هم نشته چې نتيجه به ورکړي.که موږ دافغانستان څخه را ووزو شايد دافغانستان ديموکراتيک حکو مت سقوط وکړي او که پکې پاتې شو،همدې تګلارې ته دوام ورکړو نو دايو جنجال دی.»[کابل ټکی کام ۲۰۱/۹/۱۰م۶] جان سوپکو جنجال پدې کې ويني چې:«امريکا په افغانستان کې له بدناموځواکمنو کسانو سره ملګرتيا کړې ده.»[همدا سرچينه] ده دافغانستان لوړ پو ړې چارواکي په فساد کې ډوب بللي دي اوزياتوي چې:«فساد په افغانستان کې امريکايي ماموريت ته زيان اړولی،ځکه چې دافغانستان حکومت په ضد يې دخلکو غوسه راپارولې او عملاً يې دياغيانو ملا تړ ته لار هموار کړې ده.....خلک ددې لپاره طالبانو ته مخه کوي چې ددولت په ادارو کې فساد زيات شوی دی،خلک تنګ شوي دي او خلک دفساد نه دتښتې په موخه غواړي چې دطالبانو ليکو ته ورشي.»[همدا سرچينه] دا سې ښکاري چې په افغانستان کې امريکايي نظاميان په افغاني نظامي ځواکونو کې دفساد او ناوړتيا ترمنځ اړيکې څيړي، نو ځکه دامريکايي ځواکونو عمومي قو مندان نيکولسن وايي چې:«بې کفايته مشرتوب او فساد دافغاني ځواکونو دوی سترې ستونځې دي......فساد ددې لامل شوی دی چې افغاني ځواکونه کمزوري کړي،دوی په خپل حکو مت بې باوره کړي او دجګړې مورال له لاسه ورکړي..... په لرې پرتو سيمو کې ا فغاني ځواکونو ته وسلې،اوبه،خوراکي ټو کې او آن معا شونه نه رسيږي او دا د دې سبب شوی دی چې دوی کمزوري شي او دجګړې ليکې پريږدي،دافغاني ځواکونو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

په رهبری کی کمزوری او بی کفایته کسان ولاړ دی چی نشی کولی دا ځواکونه مدیزیت کړی.»[سپوږمی راډیو،۱۳ لیندی ۱۳۹۵]
دامریکایی چارواکو دا څرګندونی چی، فساد او بی کفایتی افغانی دولت کمزوری کوی، او مخالفان یی ځواکمن کوی پوره حقیقت لری، خودوی په دی هکله خپل جنایتونه نه یادوی.حقیقت دادی چی د واد ونو او د جنازی په مرا سمو، په روغتونونو او نورو ملکی هدفونو بمباری،له وحشته ډک زندانونه او نور دانسانیت ضد عملونه هم دامریکایا نو په خلاف دافغا نانو کرکه راپاروی او ځنی امریکایان هم داحقیقت منی، دبیلګی په توګه امریکاییی لیکوا ل چرلس پینا لیکی چی:«دهمدی ملکی مرګ ژوبلی له کبله په خلکوکی دامریکا یی ځواکونودښمنان ډیرږی او دمقاومت کوونکو سره خوا خوږی پیدا کوی.نوموړی زیاتوی چی همدا اوس موږ په تیرو پنځلس کالونو کی ښه زده کړه کړی دی.»[نن ټکی اسیا ۲۲مارچ ۲۰۱۷م] بل داچی په وروستیو ۱۶ کلونو کی هغه څوک په افغانستان کی د د ولت دملا تیر جوړوی، چی دفساد او دجنګی جنابتکاری ښکاره تاریخ لری. امریکا پخپل لاس دی کړیوته دو لتی واک ور سپارلی دی او له هغوی سره په ګډه یی دفساد تخم کرلی او محصول یی په خپلو کی سره ویشلی دی.د ګټو دی اشترا ک فاسدانو ته ډاد ور کړی دی چی، په بهر کی دنړی تر ټولو ځواکمن او غښتلی اندیوالان لری، نو ځکه په ډاده زړه په هیواد کی وحشت او لوټماری ته دوام ورکوی،له امریکا او ناټو دا تمه هم لری،چی دسا تنی لپاره به یی نور سر تیری هم ورلیږی او دجنګسالارانو په واکمنی به دابد یت مهر لګوی.خو دامریکا مشهوره ورځپا نه ـ واشنګټن پوست بل نظرلری او لیکی چی دافغا نستان دولت مخالفان«خپل فعالیت پدی تشه پوری نه تړی چی په افغا نستان کی بهرنی سرتیری کم دی،بلکی دحکومت په کمزوری،اداری فساد،کورنیو اختلافونو اورقا بتونو پوری تړی،چی له کبله یی حکومت نشی کولی دخلکو خدمت وکړی اړ اضلاحا ت را منځ ته کړی.»[ازادی راډیو ۲۲غوایی ۱۳۹۶]
داسی ښکاری چی د دونالد ترمپ دجنګ وزیر، ما تیس هم تر یوی انداز پوری به دی واقعیت پو هیدلی دی،او افغان حکومت ته یی دا نصیحت کړی دی،«چی د ملی وحدت حکومت ته پکاردی چی د خلکو رضا یت خپل کړی. د نوموړی په وینا هغه حکومت چی د خلکو ملا تړ ولریو هیڅ دښمن ورسره مبارزه نشی کولی....دخلکو ملا تړ اورضایت باید دکار لومړیتوب وی.»[افغان جرمن آنلاین ۲۰۱۷/۵/۱۱م] ما تیس په دی ټکی کی حق لری،خو لارږی جنګ،زور ازمویل،فساد،جنګسالاری او زور واکی نه دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ